# په پښتو کښې د مخصوصو تورو ځ، څ،ږ او ښ ضرورت او اهميت

## Importance and need of Specific Alphabets in Pashto

Naveed Jamal[1]

Dr. Qadar Wahid [2]

## Abstract:

In Pashto language, letters are called "Ghag Tori" or in short "Tori" in the Pashto script, the four letters (ځ، څ،ږ، ښ) are called special letters. The biggest reason for this is because of different dialects. Spelling differences are changed in agreement. If we look at the historical background of its use, then for the first time in Bayazid Ansari's letter, then in Akhun Darweza's letters, and then in Khushal Khan Khattak's letters, its specific forms, number and descriptions come to hand. Then later the use of these letters in Pashto spellings has been going on until the modern era. Scholars of the modern era differ on the forms, sound quality, number, necessity and importance of these special letters. One group of people considers it unnecessary, the second group considers it necessary, the third group believes in increasing its number, and the fourth group considers these letters to be phonetic, and the fifth group calls them non-phonetic letters. In this research paper all these important aspects of specific letters are enlightened.

په پښتو کښې حروفو ته غږ توري يا مختصراً توري وائي ـ ځينې ورته غږ نخښه هم وائي ـ د پښتو په غږ تورو کښې ځلورو تـورو "ځ، څ، ږ، ښ" تـه مخصـوص تـوري وئـيلے شـي ـ د دې د مخصـوص کولو د ټولو نه لويه وجه د بېلا بېلو لهجو له امله راپورته شوي املائي اختلافات په اتفاق کښې بدلول دي ـ د دې د استعمال تاريخي شاليد ته چې ګورو نو په وړومبي ځل د بايزيد انصـاري پـه ليـک کښـې بيـا د اخون درويزه په ليکونو کښې او بيا د خوشحال خان خټـک پـه ليکونـو کښـې د دې مخصـوص شـکلونه، تعداد او تشريحات په لاس راځي ـ بيا وروسته د پښتو په عامه يا عوامي املاء کښې د دې تورو استعمال تر جديد دوره راروان دے ـ د جديد دور د پوهانو د دې مخصوص تـورو پـه شـکلونو، صـوتي حېثيـت، تعداد، ضرورت او اهميت اختلاف دے ـ يوه ډله خلق دا غېر ضروري ګڼي، دويمه ډله دا ډېر ضـروري او مهم بولي، دريمه ډله د دې په تعداد کښې د اضافي قائله ده او ځلورمه ډلـه دا حـروف صـوتي ګڼـي او پنځمه ډله ئې غېر صـوتي توري بولي ـ د دغې ټولـو رائيـو پـه موجـودګۍ کښـې کتـل دا دي چـې د پښـتو مخصوص توري څومره اهم دي او د پښتو په ليک دود او امـلا کښـې د دې خـاص تـورو څـه اهميـت او ارزښت دے ـ پکار ده چې وړومبے د دې خاص تورو تـاريخي شـاليد تـه ځير شـو او د دې پـه بېلابېلـو

[1] PhD Scholar, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.

[2] Lecturer, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.

شکلونو او استعمال ئې ځان پوهه کړو ـ ځکه چې د پښتو زاړه اثار هم په دغه تورو کښې لیک دي او د دې د پوهې نه بغیر د دغو زړو اثارو لوستنه به د تېروتنې باعث وي ـ

د پښتو ژبې په زړو اثارو کښې د ټولو نه اهم کتاب د بایزید انصاري (پیر روښان) خېر البیان دے ـ چې د لیک کال ئې ۹۶۸ هجري قمري خوا او شا دے ـ دۀ په خپل دې کتاب کښې د ټولو نـه اول د پښـتو په غږ تورو بحث کړے دے چې پکښې د پښتو د خاص غږ تورو ذکر هم شامل دے ـ

بایزید انصاري په خپل کتاب کښې لیکي چې ماته الله وۀ فرمائیل چې:

"او بایزید وۀ کښه هغه حرفونه چې په هره ژبه سازېږي د فائدې دپاره د ادمیان، تـۀ دانـا ئې له هره څیزه، ما نۀ زده بېرون حرفونه د قرآن، او سبحان، او بایزید د حرفونـو کښـل په تا دي ـ د حرفونو څرګندول د نمون و ښوول په ما دي ـ وۀ کښه زما په فرمان په مانند د حرفونو د قرآن او کېږده په ځینې حرفونـو ټکـي یـا غړونـدي یـا نـوري نښـانې بـې لـه حرفونو، ژر به وه پېژني آدمیان، ځینې حرفونه ځلور ځلور وۀ کښه عیان، ژر به ئې زده کا چې ئې لولي ـ"[1]

د خېر البیان د دې اقتباس په رڼا کښې څرګندېږي چې بایزید انصاري ته د الله تعالیٰ له اړخه خـاص هدایت ورکړے شوے وۀ ـ خصوصاً دغه خبره چې حرفونه د حرفونو دپاسه نۀ دي اچول پکار ـ د دې نه وروسته بایزید انصاري د پښتو ټول **ځلور ځلوېښت توري دي ـ په دې حروفو کښـې د پښـتو مخصـوص توري "څ" او "ښ" هم په دغه شکل اوس هم مستعمل دي ـ د "ځ" دپاره ئې د دال (د) د لاندې ټاکـے کړے دے او دا علامت ئې د "ځ" په ځائے استعمال کړے دے ـ دغه رنګ د "ړ" دپـاره ئـې د دال "د" مخې ته ټاکے کړے دے او دغه علامت ئې د "ړ" دپاره پکارولے دے ـ**

د بایزید انصاري نه پس اخون درویزه چې په خپل کتاب "مخزن الاسلام" کښې چې کوم غږ تـوري پکارولي دي هغه اکثریت هم دغه توري دي کوم چې بایزید انصاري وضع کړي وو ـ بس "ځ" هغه جدا غږ تورے نۀ ګڼي او د "څ" تورے هم د "ځ" دپاره پکاروي ـ دغه رنګ د "ړ" غږ تـورے چـې تـر ننـه دغه رنګ پکارېږي، دا اخون درویزه په وړومبي ځل په دغه شکل پکارولے دے ـ

اخوند درویزه په خپل کتاب مخزن الاسلام کښې د ځینو غږ تـورو وضـاحت پـه فارسـی ژبـه کښـې داسې پېش کوي:

"شو د جزمک درتحت اوایراد کردر "ډ" می شود ـ وګـاهی "ر" مهملـه چـون ثقیل شـود جزمک درتحت آن ایراد کردد "ړ" می شـود ـ وګـاهی "ز" معجمـه چـون ثقیل شـود سـه نقطه برفوق اوداده "ژ" مـی شـود ـ وچـون ثقیل ترشـود یـک نقطـه برفـوق ویـک نقطـه درتحت ایرادګردد "ږ" می شود ـ و ګاهی "س" مهمله چون ثقیل شود یک نقطه برفوق و یک نقطه درتحت آن نهاده "ښ" مي شود ـ "ک" عربي چون عجمي شود سرکشش کـاف را اند کـے طرف تحت کج کرد "ګ" مي شود ـ"[2]

ترجمه: چې کله "د" باندې زور ورکړے شـي نـو د "د" د لانـدې کونـده لګولـو سـره "ډ" جوړ شي ـ او کله چې "ر" مهمل ثقیل شـي د "ري" د لانـدې د کونـډې لګولـو سـره "ړ" جوړه شي ـ او چې کله "ز" معجمه ثقیل شي نـو دپاسـه پـرې درې نقطـې اولـګي او "ژ" ترې جوړه شي ـ او کله چې ثقیل تر شي نو یوه نقطه پرې باندې او یوه نقطه ترې لاندې شي او "ږ" ترې جوړ شي ـ او کله چې "س" مهمله ثقیل شي نو یوه نقطه پـرې بانـدې او یوه نقطه ترې لاندې شي او "ښ" ترې جوړ شي ـ "ک" عربي چې کله عجمي شـي نـو د سر کش ئې کونډه شي او "ګ" ترې جوړ شي ـ

د پورته اقتباس په رڼا کښې وئيلي شو چې اخون درويزه "ښ" د "س" مهمله ثقيل شکل ګڼي چې اتفاق ورسره ممکن نهٔ دے ـ دغه رنګ څنګه چې وړاندې ذکر اوشو، د "ځ" د توري هيڅ ذکر نهٔ کوي او نهٔ ئې په خپلو ليکونو کښې پکاروي ـ او "ځ" په ځائے هم د "څ" توري پکاروي ـ البته د "ړ" حرف دا علامت اخون درويزه بدل کړے دے چې تر ننه هم په دغه صورت کښې پکارولے شي ـ

د اخون درويزه نه وروستهٔ د خوشحال خان خټک په ليک دود چې "زنځيرۍ" ورته هم وئيلے شي، کښې د دغه مخصوص تورو شکلونه داسې دي چې د "ځ" په ځائے به هغهٔ په "ج" کښې دننه يعنې د ټاکي نه لاندې همزه (ء) لګوو ـ د "څ" د شکل په ځائے به ئې د "ح" په مېنځ کښې دوه ټاکي او همزه کوله ـ د "ړ" دپاره به ئې د "ژ" د لاندې همزه لګوو ـ دغه رنګ د "ښ" دپاره به ئې د "ش" د لاندې همزه اچوله ـ[3]

د پورته اسنادو په رڼا کښې مونږ وئيلےشو چې "څ" او "ښ" چې تر ننه هم په دغه شکلونو کښې پکارولے شي دا د بايزيد انصاري ذهني اختراع ده ـ او "ړ" چې تر ننه هم دغه شکل لري د اخوند درويزه وضع کړے شکل دے ـ خو د "ځ" توري دا موجوده شکل کله په داسې طرز اوليکلے شو په دغه حقله يوه دعوىٰ دا ده چې، "مرحوم عبدالشکور رشاد وائي چې د"ځ" توري دا موجوده شکل د وزير محمد ګل خان مومند ايجاد دے ـ"[4] ځکه چې دا ليکوال چې د "ځ" توري وضاحت کله په دغه خپل کتاب کښې کوي نو داسې بريښي چې ددې توري استعمال د هغه نه وړاندې هم په دغه صورت کښې کېدو ـ

اوس سوال دا پېدا کيږي چې آيا دا مخصوص توري خپل مخصوص آواز لري او کنه او په ادائيګۍ کښې ئې مخرجونه معلوم دي او کنه؟  د پښتو اکېډيمۍ پېښور له خوا په ويوه کتابچه کښې د دې تورو په حقله دغه وضاحت داسې شوے دے ـ  چې،

> "د پښتو دا مخصوص توري اصل کښې مخصوص آوازونه وو چې ليک دود کښې ورته مخصوص علامات ورکړے شو ـ رو رو هغه آوازونه بدل شو او په دوو لويو قبيلو کښې ئې ځان ځان ته ارتقاء وشوه ـ اوس دا داسې توري دي چې يوه قبيله کښې يو شان آواز لري او بله کښې بل شان ـ"[5]

د دې مخصوص تورو د غږونو او مخرجونو په حقله ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکي چې:

> "د دې تورو په باره کښې د پوهانو دا رائې ده چې د تمدن په شروع کښې د دې اوازونه هر چرته مشترک وو او د عربۍ ژبې نه اخستي حروف تهجي کښې دا ځکه زيات کړے شول چې پښتو کښې د دې خپل مخصوص اوازونه مخرجونه وو۔ دغه اوازونه د عربۍ، فارسۍ يا هندۍ په الف بې تې يا حروف تهجي نهٔ پوره کېدو ـ ځکه چې د هغوي هغه ټول اوازونه تر ډېره حده په پښتو کښې د وړاندې نه موجود وو ـ سيوا د عربۍ د مخصوص تورو نه ـ د پښتو دا مخصوص توري يا د دې اوازونه يا مخرجونه په پښتو کښې زيات وو ـ نو هم په دغه پټۍ کښې ځکه زيات کړے شو ـ وروستو د پېښور وادۍ سره د خوا و شا علاقو کښې د نورو ژبو د اختلاط له وجې اکثر دغه اوازونه بدل شو ـ او د ځنې قبيلو د لهجې نه وغورزېدل ـ ولې اکثريتي لهجو کښې نن هم موجود دي ـ"[6]

د پورته اقتباسونو نه څرګنده ده چې دا مخصوص توري مخصوص غږونه وو خو اوس د قبيلو په تقسيم کښې له مېنځه وتي دي ـ او فقط علامتونه ئې تر ننه موجود دي ـ نو ځکه د پښتو املا په لړ کښې د دې استعمال تر ننه کيږي ـ البته په اوس وخت کښې د دې تورو کردار دا هم دے چې د بېلابېلو قبيلو په ژبه کښې چې کوم الفاظ دي چې په تلفظ او استعمال کښې ئې اختلاف راځي هغه به د اختلافي صورت په

ځائے په مخصوص تورو باندې لیکلے شي ـ د دې استعمال تر حده ئې اکثر لیکوال مخصوص حالت په اتفاق سره مني ولې د دې تورو په صوتي او مخرجي حالت کښې ئې اختلاف موجود دے ـ لکه،

> "دا توري په حقیقت کښې څه مستقل توري نهٔ دي خو متقدمینو دا توري په دې غرض وضع کړي دي چې د مختلفو قبیلو کښې د تلفظ د اختلاف باوجود د پښتو په لیک کښې یو والے راوستے شي ـ"[7]

د پښتو لسانیاتو یو بل ماهر د دې مخصوص تورو حېثیت د صوتیاتو د اصولو په رڼا کښې د ضرورت نه زیات ګڼي،

> "د صوتیات د اصولو په رڼا کښې پنځلس علامات داسې دي چې زمونږ د ضرورت نه زیات دي ـ ث، ځ، ح، ذ، ړ، ښ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق او هـ ـ مونږ ث او ص په س، ط په ت، ض، ظ او ذ په ز، ع او هـ په ا، ف په پ او ق په ک بدلوو او اصلي اوازونه ئې نهٔ لرو ـ ما په دغه فهرست کښې د پښتو مخصوص توري ځ، څ، ړ او ښ هم اضافي ظاهر کړي دي او حقیقت هم داسې دے ـ دغه توري څه داسې بېل اوازونه نهٔ لري چې په معنٰی کښې فرق راولي ـ"[8]

دغه رنګ یو بل لیکوال د هغه تورو په وضاحت کښې کوم چې د پښتو صوتیي نهٔ دي، پکښې ئې د پښتو مخصوص توري هم شامل کړي دي ـ او وائي چې دا توري په پښتو کښې اضافي دي چې د نورو تورو په مدد لیکلے کېدې شي ـ خپله دغه اختلافي نقطه هغهٔ داسې وړاندې کوي چې: د پښتو خپل څلور مخصوص حروف ځ،څ، ښ، ږ هم په ز، س، خ، ګ ادا کېږي ـ ـ ـ که نورې ځینې قبیلې "ځ" په "ج" ادا کوي نو د دې حرف دوه اوازونه "ز" او "ج" دي ـ لکه "ځان، جان"، "ز" او "ج" پښتو کښې صوتیې موجود دي نو "ځ" صوتیه نهٔ شوه ـ "څ" ځان له صوتیه نهٔ ده ـ بلکه په دوو صوتیو "س،چ" ادا کېږي لکه سادر، چادر، "ږ" ځان له صوتیه نهٔ ده ځکه چې په "ګ" او "ژ" ادا کېږي ـ "ښ" ځان له صوتیه نهٔ ده ځکه چې په "خ" او "ش" ادا کېږي لکه اوښان، اوشان"، البته په دوې کښې د یو حرف "ځ" باره کښې ډاکټر خالد خان خټک لیکي چې خټک، بنګښ، توري، افریدي، اورکزي، وزیر، محسود، کاکړ، بابړ، سلیمان خېل او نور قبائل "ځ" په خپل اصل اواز کښې ادا کوي ـ اصل اواز یعنې د "ج" او "ز" منځنے اواز ـ دا اواز "د" نه شروع شي او په "ز" ختم شي او ځکه ورته انګریز محقیقینو د DZ علامت تجویز کړے دے ـ که دا د "ځ" یو نرم اواز دے چې د "د او ز" د اشتراک سره پیدا کېږي ـ خو د اواز آخرنی واضحه برخه "ز" اورېدے کېږي ـ دغه شان علامت "څ" چې انګریزي کښې Ts سره ظاهر کړے شوے دے یعنې دا اواز "چ" نه شروع شي او په "س" ختم شي ـ د اواز آخرنی واضحه برخه "س" اورېدے شي ـ بله لهجه کښې واضحه "چ" دے ـ د لهجو د باریک فرقونه نظر انداز کېدے شي او نظر انداز کول پکار دي ـ[9]

د لهجو د دغه فرق د نظر انداز کولو په حق کښې سعدالله جان برق هم دے ـ هغوي نهٔ یوازې پښتو د نسخ په ځائے نستعلیق ته د اړولو په حق کښې دے بلکې ورسره د مخصوص تورو د نهٔ استعمال تجویز هم وړاندې کوي ـ او دلیل ئې دا دے چې دغه د تلفظ اختلاف د پښتو په لهجو کښې نور هم بلها ډېر دے نو که د هر املائي اختلاف دپاره مونږ مخصوص توري وضع کوو نو ژبه به د غیر صوتي علامتونو نه ډکه شي ـ [10]

د پښتو په کلمو کښې د لهجوي اختلاف یوه نمونه دا هم مېلاوېړي چې په ۱۹۴۰ء کښې د عبدالخالق خلیق صېب له خوا د یو نوي مخصوص حرف د اضافي تجویز هم وړاندې شوے دے ـ د دغې تجویز د وړاندې کولو په وخت خلیق صېب د دې وضاحت داسې کوي چې:

> "د پښتو په تهجي حرفونو کښې تر نـن ورځـې د فارسـۍ او عربـۍ د حرفونـو نـه عـلاوه ځلور حرفونه د پښتو خپل ګڼلے شي ـ چې دا دي ـ ځ، چې ددې نـوم زيـم دے او آواز د "ز" ورکوي ـ څ، چې نوم ئې سيم دے او د "س" آواز ورکوي ـ ږ، چې نوم ئې ګـې دے او آواز د "ګ" ورکوي ـ ښ، چې نوم ئې خـين دے او د "خ" آواز ورکـوي ـ مګر د دې نه علاوه يو حرف بل ډېر ضروري دے چې د هغې نوم دې "جې" وي ـ آواز دې د "ج" ورکوي ـ او شکل به ئې د "ژ" د جنس نه وي ځکه چې يو حرف داسې دے چې د خټکو، وزيرو، غلجو وغېره په ژبه کښې د "ژې" اواز ورکـوي او پـه يوسـف زاۍ يـا پېښـورۍ پښتو کښې هغه د "ج" آواز ورکوي ـ لکه ژبه چې ورته جبه وئيلے شـي ـ ژړا تـه جـړا، وريژې ته وريجې، ژاؤلې ته جاوله، ژمي ته ژمے، ژرندې ته جرنده، ژوبـل تـه جوبـل، وژل ته وجل، ژورې ته جوره، ژوند ته جوند او روژې ته روجه وئيلے شي ـ تر اوسه د داسې لفظونو دپاره عام طور کاتبان يا خو "ژ" استعمالوي يـا "ج" ـ حـال دا چـې د دې د پاره د يو بل حرف ضرورت دے ـ زما په خيال که د "ر" دپاسه همزه اوشـي ـ نـو دا بـه يو نوے حرف وي ـ  چې خټک به ئې "ژ" لولي او پېښـوري يـا يوسـف زي بـه ئـې "ج" لولي ـ هغه به داسې وي "رٔ" ـ[11]

د دې تجويز په جواب کښې دوه خطونه د پښتون مجلې په پاڼو محفوظ دي چې يـو ئـې د حمايـت پـه صورت کښې دے او بل ئې د مخالفت په شـکل کښـې ـ مخالفـت ئـې د پښـتنو قـامي اتـل خـان عبدالصـمد اچکزي کړے دے او په حمايت کښې ئې سرفراز د ملاکنډ نه ليک کړے دے ـ په دې کښې مخالفه رائـې داسې ده چې: اګر چې دا خبره شکمنه ده چې د پښتو د خاص حرفونو وجود مفيد دے که مضر ـ زمـا پـه خيال زياتيدل خو ئې ضرور بې فائدې بلکه مضر دي ـ د پښتون (مجله) د ادارې په بالا تجويز کښې چې کومه فائده شته يعني د خط اتحاد هغه د نوي حرف د زياتيدو پـه ځـائے د مروجـو مختلفـو الفـاظو پـه يـو حرف "ژ" هم پوره کيږي ـ نو بيا د نوي حرف څه حاجت دے ـ [12]

د مخصوص تورو په حواله چې کومې اختلافي رائې يا اختلافي نظر چې د دې صـوتي حېثيـت څـه دے او څنګه دے؟ په دې حقله چې مونږ اوګورو نو: ډاکټر ارنسټ ټرمپ او خليل صديقي د پښـتو ځلـور مخصوص حروف صوتيې ګڼي ـ د افغانستان لساني پوهـان ډاکټـر مجـاور احمـد زيـار، سيد محـي الـدين هاشمي، محمد صابر خويشکي او محمد اسماعيل يون دا ځلور حروف په کانسونينټ کښې درج کړي دي او بيل اوازونه ئې حسابوي ـ سيد خيال بخاري او ډاکټر خالد خان خټک ئـې صـوتيې نـۀ ګڼـي ـ دا د دوو لهجو د تلفظ د نمائندګۍ علامتونه دي او صوتيې نۀ دي ـ [13]

اکثر داسې هم شوي دي چې کله يو ليکوال د دې تورو په يو ځائے ذکر کوي نو د ترتيب خيـال ئـې اونۀ ساتي او د خپلې خوښې په ترتيب ئې اوليکي لکـه د دې مخصوصـو تـورو پـه حقلـه د بـاړه ګلـۍ پـه اوولس فېصلو کښې اوولسمه فېصله داسې بيان شوې ده چې "د پښتو مخصوص توري "څ، ځ، ښ، ږ" به هم دغسې ليکلے شي ـ"[14] د پښتو اکېډيمۍ له خوا په شائع شوې دغه فېصله کښې د مخصوصو تورو دغه ترتيب درست نۀ دے ـ دا ترتيب ئې "ځ،څ،ږ، ښ" پکار دے ـ ځکه چې په پښتو الفباء کښـې هم پـه دغـه ترتيب په يو بل پسې راځي ـ دغه اوولسمه فېصله د ډاکټر راج ولي شاه خټک پـه وضـاحتي کتـاب کښـې مختصراً داسې ورکړې شوې ده ـ "د پښتو مخصوص توري، ځ، څ، ښ، ږ، بـه هـم دغسـې لـيکلے شـي ـ"[15] په دغې ترتيب کښې د ځ او څ ترتيب خو درست کړے شوے دے ولې د "ږ او ښ" ترتيب درست نۀ دے ـ ځکه چې په پښتو الفبا کښې "ښ" د "ږ" نه وروسته راځي ـ

اوس راځو د دې ځلورو مخصوصو تورو هغه وضاحتونو ته چې په وخت ئې بېلابېلو پوهانو کړي دي او مونږ ئې د دې د ضرورت او اهميت نه خبر کړي يو ـ او ورسره ئې د دې پـه استعمال هم

اګاه کړي يو ـ چې چرته چرته او ولې د دې استعمال پکار دے او چرته ئې د استعمال نه به ځان ژغورو ـ

په دې تورو کښې وړومبے تورے "ځ" دے ـ چې اکثريت ورته "ځيم" نوم وائي ـ چې آواز ئې د انګريزي DZ د مشترکه آواز سره نزدې دے ـ دغه شان په پښتو کښې د "ز" غږ ته هم نزدې غونډې غږ لري ـ دغه وجه ده چې د ځينې لهجو خلق دا نۀ شي ادا کولے ـ او اکثر هغه لفظونه چې د "ځ" تورے لري ـ دوي ئې ليکي هم "ز" او د "ځ" تلفظ هم د "ز" په شان کوي او يا ئې په ليکلو کښې تېروځي ـ

"په اصل کښې "ځ" د پښتو د يو مخصوص آواز علامت دے ـ د ا ـ ب ـ ت په ترتيب کښې د "ج" نه پس راځي ـ د "ج" او "ز" تر مېنځه داسې آواز لري چې ژبه پرې د غاښونو سره لګي ـ په پښتو کښې د دې خپل مخصوص آواز دے ـ او اکثر داسې هم شوي دي چې کوم ټکي د فارسۍ او هندۍ نه پښتو ته راغلي دي او اصل ئې "ج" دے د هغې آواز په پښتو کښې د پښتو د مزاج له مخه اکثر په "ځ" بدل شوے دے يا بدلېږي ـ لکه جنګل نه ځنګل، جوان نه ځوان، جائے نه ځائے وغېره ـ خو ددې نه سېوا د پښتو خپل ډېر ټکي هم په دې آواز شته ـ پښتو کښې د "ج" تورے هم د پښتو خپل آواز دے ـ د فارسۍ، هندۍ يا عربۍ ډېر ټکي هم خالص په "ج" وئيلے کېږي ـ او د پښتو خپل کلمات هم په "ج" شته ـ او داسې ټکي به په "ج" ليکلے هم شي او وئيلے هم ـ لکه جولا، جامې، جمرود، جمامه وغېره ـ خو د "ځ" خپل مخصوص آواز دے ـ هغه ټکي چې د "ځ" دي هغه به په "ځ" ليکلے شي په "ز" يا "ذ" ليکل به غلط وي ـ چونکې دا "ځ" د "ج" سره نزدې دے او د پرديو ژبو هغه ټکي چې د "ج" نه پښتو کښې "ځ" شوي دي ـ نو ځکه ئې د حروفِ تهجي په ترتيب کښې به د "ج" نه پس ليکلے شي ـ بله خبره دا ده چې د پښتنو ځينې خپلې قبيلې هم په دې کليمو کښې د تلفظ اختلاف لري ـ او د "ځ" تورے ددغه اختلاف تر مېنځه يو اتفاق هم راولي ـ هغه داسې د مروتو او ګنډه پور قبيلې چې کوم کلمات په "ج" ادا کوي ـ هم هغه کليمې د يوسفزيو يانورو قبيلو خلق په "ز" تلفظ کوي ـ ددې دواړو د اختلاف تر مېنځه د "ځ" تورے دے چې هم "ج" ته نزدې دے او هم "ز" خو زيات اهم په دې دے چې داسې کليمې نۀ په "ج" او په "ز" بلکې په "ځ" دي ـ لکه مروت او ګنډه پور چې جنے، جوان، جنګل وغېره وائي نو د يوسفزيو په اواز کښې زنے، زوان، او زنګل وئيلے کېږي ـ حالانکې دا ځنے، ځوان، ځنګل دے ـ او شناخت يې هم د دواړو دپاره اسان دے ـ او ليکل لوستل يې هم دواړو ته اسان دي ـ دا د ژبې فرق دے ـ ځلا، ځلان، ځلنده، وغېره د پښتو ټکي که د مروتو په ژبه جلا، جلان، جلنده راځي ـ يا د نورو قبيلو په ژبه زلا، زلان يا زلنده راځي نو د عېب خبره نۀ ده ـ خو اصل کښې دا ټکي د پښتو د مخصوص اواز په "ځ" دي ـ او بايد چې په مشق او پرېکټس ئې هم دواړه لهجې خپل هم کړے شي ـ او د ادا کولو طريقه هم خپله کړي ـ"[16]

د دې حرف يعني "ځ" د استعمال په ضد کښې چې کومه رائې او وضاحت د مخالف اړخ نه شوې دے نو هغه څه په دې ډول دے :

"د دې حرف باره کښې عام طور سره وئيلے شي چې د نورو ژبو د لفظونو "ج" پښتو کښې په "ځ" بدل شي ـ خو حقيقت دا دے چې داسې لفظونه د ګوتو په شمېر دي لکه د سنسکرت او هندۍ جنګل، جهولي، جليبي وغېره ـ د فارسۍ جان، جګر او جوان وغېره ـ دغه شان د عربۍ مثالونه هم لږ دي لکه جواب، فوج، جلا وغېره ـ خو ددې په نسبت ددې درېواړو ژبو (هندي،فارسي،عربي) بلها لفظونه پښتو کښې "ج" سره ادا کېږي ـ لکه

> د هندۍ جالي، جټ، جنجال، جوار، جوبن، جوړ، جوګي وغېره ـ د فارسۍ جادو، جام، جامه، جائيداد، جرمانه، جفا، جنګ او جهاز وغېره ـ د عربۍ جائز، جاسوس، جاهل، جوثه، جريب، جلسه، جمال، جمع، جنازه، جنون وغېره ـ که د نورو ژبو د "ج" اواز په "ځ" بدلېدے نو ټولو يا ډېرو لفظونو کښې به بدلېدو خو چې کمو لفظونو کښې بدلېږي نو دا څه لساني کليه نۀ ده ـ د شمېر يو څو لفظونو کښې "ج" په "ځ" بدلېږي نو که "ج" سره اوليکلے شي نو څه قباحت نۀ دے ـ هسې هم جان، جليبۍ، جولۍ، جواب او فوج پښتو کښې "ج" سره هم ليکلے کېږي او وئيلے کېږي ـ که داسې لفظونه ترې منها کړو نو وروستو لږ لفظونه پاتې کېږي او که هغه هم "ج" سره اوليکلے شي او "ځ" د حرفونو د پټۍ نه اوويستے شي نو د املا پيچيدګي به کمه شي ـ تر څو چې د پښتو خپل لفظونه کوم چې "ځ" سره ليکلے کېږي لکه ځار، ځامن، ځانګل، ځانګو، ځائے، ځړے، ځږ، ځغلول، ځکه، ځل، ځلمے وغېره نو دا په متبادل اواز "ز" سره ليکلے شوي دي لکه که يو لغت درياب اوګورو نو دوئ کښې ځيني لفظونه د "ز" په پټۍ کښې د "ز" سره هم ليک دي لکه زاري، زامن، زانګل، زانګو وغېره ـ چې دا لفظونه "ز" سره ليکلے شوي دي نو نور پاتې هم ليکل پکار دي ـ "[17]

د "ځ" نه پس بل مخصوص تورے "څ" دے ـ چې آواز ئې د انګرېزۍ د TS د مشترکه آواز غونډې دے ـ دا هم د "ځ" په شان د پښتو خپل مخصوص آواز دے ـ چې نۀ خو "چ" ده او نۀ "ث" يا "س" ـ د پښتو خپل ډېر کلمات په دې "څ" وئيلے شي ـ خو د "ځ" په شان د مروتو قبيلې يې نۀ شي ادا کولے ـ نو د "چ" په آواز هغه ټکي وائي کوم چې په "څ" دي، لکه "څه" ته "چه" وآئي، "څوک" ته "چوک" وغېره ـ او هم دا کليمې د يوسفزيو په لهجه کښې اکثر په "س" ادا کولے شي ـ چې غالباً ورو ورو ئې د ژبې نه د "څ" مخصوص آواز هېر کړے دے ـ لکه هغوي، "څوک" ته "سوک"، "څه" تـه "سـه"، "څـه رنګـه" تـه "سه رنګه" وغېره وائي ـ حالانکې دا "څ" آواز لري ـ او د پښتنو پـه اکثريتي قبيلو کښې هم داسې ادا کولے شي ـ بله اهمه خبره دا هم ده چې کوم ټکي د فارسۍ هندۍ ژبو کښې په "چ" دي ـ او هغه پښتو ته راغلي دي نو اکثر ئې آواز په "څ" شوے دے ـ لکه چادر، څادر، چارپائے، څاروے، چېر، څېر وغېره ـ نو دا هم د مروتو او د يوسفزيو تـر مېنځـه د "چ" او "س" پـه اختلاف کښې اتفاق راولي ـ چې څادر، څوک، څېر وغېره به چادر، چوک، چېر هم نۀ شي وئيلے او ليکلے او سادر، سوک، سپر وغېره به هم نۀ شي ليکلے ـ او د پښتو د خپل شناخت دپاره به په "څ" ليکلے شي ـ چې د اکثريتي لهجو مخصوص تورے دے ـ بلکې د پښتو مخصوص تورے دے ـ خو ورو ورو د ځيني قبيلو د لهجې نه اوړېدلے دے ـ بايد چې د خپل مخصوص آواز مشق ئې اوکړے شي ـ يا کم نه کم د ليکلو تر حده ئې خيال اوساتلے شي ـ که تلفظ ئې د خپلې لهجې مطابق هم کوي ـ [18]

"ددې آواز باره کښې هم عام طور سره دا وئيلے کېږي چې "چ" پښتو کښې پـه "څ" بـدل شـو ـ خـو لساني حقيقت داسې نۀ دے ـ سنسکرت، هندي او فارسي نه داسې يو څو لفظونه پښتو ته راغلي دي چې د "چ" اواز په "څ" بدل شوے دے ـ که ټول لغات راغونډ کړے شي نو تعداد ئې زيات نۀ دے ـ پـه دوي کښې ځيني داسې لفظونه هم شته چې لغت نويسانو په خپل خيال په "څ" کښې بدل کړي دي ګڼي "څ" سره نه ادا کېږي ـ لکه درياب لغت کښې د هندۍ څميار (چميار)، څنار (چنار)، د فارسۍ څراغ او څراغان او د ترکي څلمڅي (چلمچي) وغېره ـ او که دا لفظونه چرته "څ" سره ادا کېږي هم نو "چ" سره هم ادا کېږي او ځکه درياب لغت کښې د "چ" پټۍ کښې هم درج دي ـ کـه ددې پـه نسبت د نـورو ژبـو هاغـه لفظونـه ګورو چې د اصل ژبې په شان پښتو کښې هم "چ" سره ادا کېږي نـو شمېر ئې ډېر دے ـ لکـه د هنـدۍ چاټي، چالان، چټني، چرس، چکر، چکله، چنبيلي، چور چور، چونا، چوهارا وغېره ـ او د فارسۍ چاقو، چائے، چشتي، چغه، چله، چمن او چنده وغېره ـ او د پښتو خپله لفظي سرمايه لکه چم، چل ول، چينتـو،

مچ، چيندخه، چينه، چنغله، چتے، چرګ، چرمخکې وغيره ـ واضحه ده چې د داسې لفظونو شمېر ډېر دے چې د "چ" اواز په "څ" نه بدلېږي ـ که ټول لفظونه "چ" سره اوليکلے شي نو د املا پيچيدګي به کمه شي ـ هسې هم ځيني لفظونه پخوانو کاتبانو هم په خپله خوښه په "څ" بدل کړي دي او هغسې رائج شوي دي لکه سوک په "س" ليکلے شي خو ددې اسم تصغير سپېره په "څ" څپېره ليکي ـ دواړه په "س" ليکل پکار دي ـ دغه شان "پاس، لپاسه، پاسوان، ټول په "س" سره دي نو د "پاڅون" د "څ" سره ليکلو څه لساني جواز دے؟ د املا د اسانتيا او د تدريس د مشکلاتو د کمولو په خاطر "څ" نه لمن راښکل پکار دي ـ"[19]

بل د پښتو مخصوص تورے "ږ" دے ـ دا يو ضروري تورے دے دا هم د دوو لهجو تر مېنځه د اتحاد علامت دے ـ ځکه چې قندهاري يا خټک لهجه کښې چې کوم کلمات په "ژ" تلفظ کېږي هغه په يوسفزئ لهجه کښې په "ګ" تلفظ کولے شي ـ لکه ژيره، ګيره، ګمنز او ژمنځ، ژلی، ګلی، تيژه، تيګه وغېره ـ نو ددې لهجو تر مېنځه به داسې ټکي په "ږ" ليکلے شي ـ لکه ږيره، ږمنځ، ږلی، تيږه وغېره ـ ځکه چې داسې به دواړه لهجې په اسانه د اصل کليمې شناخت کولے شي ـ ددې سره دا خبره هم ضروري ده چې ځنې لهجې د "ژ" په ځائے د "ج" اواز هم اوباسي ـ د "ج" پښتو کښې خپل تورے او کلمات دي ـ هم د "ګ" خپل کلمات دي چې په هره لهجه کښې شته نو يواځې د ژ او ګ تر مېنځه "ږ" ده ـ او د "ژ" خپل آواز هم په هره لهجه کښې شته ـ هغه کليمې چې په اصل کښې په "ژ" دي ـ او ځنې لهجې ئې په "ج" تلفظ کوي ـ هغوي به ئې په "ج" نۀ ليکي ـ ځکه چې داسې به د ټکي او د پښتو خپل شناخت او وحدت ته نقصان رسي ـ لکه "ژبه" به "ژبه" وي "جبه" ليکل نۀ دي ليکل پکار ـ ژوند په "ژ" دے ـ جوند يا جند ليک نه دي پکار ـ وريژې، وريجې ليکل نۀ دي پکار ـ ځنې داسې نورې کلمې دي او خالص د پښتو په "ژ" ليکل پکار دي ـ چې "ژ" د پښتو خپل مخصوص اواز دے ـ او په يوسفزئ او قندهارئ دواړو لهجو کښې شته ـ او که د چا په لهجه کښې ددې ځائے "ج" هم وي ـ نو د هغوي شمېر ډېر کم دے ـ بائد چې د پښتو په وحدت پسې لاړ شي ـ او د ليکلو تر حده کم نه کم دغه کليمې په "ژ" ليکي او "ږ" به يواځې د دوؤ غټو لهجو د "ژ" او "ګ" د اختلاف تر مېنځه د اتحاد د علامت په طور ليکلے شي ـ [20]

> "دا علامت د يوسفزئ او خټک لهجې د مختلفو صوتيو د ادائيګۍ په سبب وضع کړے شوے دے ـ يوسفزئ لهجه کښې ږيره وئيلے شي نو خټک کښې ژيره ده ـ دا علامت هم پښتو املا کښې د پيچيدګۍ باعث دے ـ درسته املا به هغه څوک ليکلے شي چې په دواړو لهجو عبور لري ـ په داسې املائي مسئلو کښې په يوه معياري او مرکزي املا اتفاق رائې پيدا کول او املا ساده کول او تدريس ئې اسانول ضروري دي ـ"[21]

بل مخصوص تورے د "ښ" دے ـ دا هم د پښتو مخصوص آواز دے ـ خو د نرمي او سختي لهجې تر مېنځه اختلاف کښې د اتفاق علامت هم دے ـ هغه داسې چې خټک يا قندهاري لهجه کښې کومې کليمې په "ش" ادا کولے شي، هغه کليمې اکثر په يوسفزي لهجه کښې په "خ" وئيلےشي ـ نو هر کله چې د يوسفزيو په لهجه کښې "ش" هم شته او "خ" او داسې قندهاري يا خټک لهجه کښې هم "ش" شته او هم "خ" خو اکثر کليمې داسې هم دي چې د يوې لهجې خلق ئې په ش تلفظ کوي او د بلې لهجې وسيدونکي ئې په "خ" کوي ـ نو داسې کليمې به په "ښ" ليکلے شي ـ چې دواړه لهجې ئې د خپلې لهجې مطابق وئيلے شي ـ لکه پښتو، پښتون، چې پشتو او پختو به نۀ شي ليکلے بلکې پښو او پښتون به وي ـ يعني په "ښ" به وي ـ داسې خه او شه، اوخ او اوش، پشه او پخه، روشان او روخان وغېره ـ به ښه، اوښ، پښه، روښان وي ـ چې دواړه لهجې ئې هم شناخت په اسانه کولے شي ـ او هم ليکلے او وئيلے شي او په ليک کښې به ئې اتفاق او وحدت هم وي ـ[22]

"ښ، هم د یوسفزۍ او خټ لهجو کښې د ځینې لفظونو د ادائیګۍ د اختلاف په سبب وضع کړې شوې دې ـ یوسفزۍ لهجه کښې "ښه" وائي او خټک کښې "شه" خو دا څه حتمي لساني کلیه نۀ ده ـ ځکه چې متضاد صورتونه هم شته ـ لکه یوسفزۍ لهجه کښې "خوشحالي" د "ش" سره ادا کېږي او خټک لهجه کښې ښار "ښ" سره ـ دلته هم په یوه معیاري او مرکزي املا د اتفاق رائې ضرورت دے ـ د دنیا په نورو ژبو کښې هم د لهجې اختلاف موجود دے ـ لفظ په یوه معیاري لهجه او املا کښې لیکلے کېږي ـ او وېنا ئې هرې لهجې واله په خپل انداز او اواز کښې کوي ـ ـ ـ که د مرکزي لهجې د املائي اتباع دپاره اتفاقِ رائې پېدا شي نو ددې حرف ضرورت به پاتې نۀ شي ـ"[23]

د پورته مندره جاتو په رڼا کښې وئیلو شو چې د مخصوص تورو د استعمال او ضرورت په حقله بېلابېلې رائې او تجویزونه دي ـ خو د باره ګلۍ د سیمینار په دې حقله فېصله ښائي چې د دې تورو استعمال دې ارو مرو اوشي او هم د دې تورو د وجې چې د پښتو املا کوم ځانګړے تشخص دے هغه دے برقرار اوساتلے شي ـ

د ستونزو د حل دپاره چې پښتو اکېډیمي پېښور کومه اراده د ډېر وخت نه لري چې د مخصوص تورو د ستونزو د خاتمې دپاره یوه کمیټي جوړه چې د پښتو د هرې لهجې نمائنده او پوهه خلق پکښې ممبران وي او دوي متفقه یو لغت د مخصوص تورو د استعمال جوړ کړي ـ که دغه اراده عملي شي نو امکان شته چې د دې د استعمال ستونزې په ټوله حل شي ـ

## حوالې

1 د خېر البيان تنقيدي مطالعه، د قلندر مومند، وړوُمبے ايډيشن، د چاپ ځائے کوهاټ روډ پېښور، ۱۹۸۸ء، مخ ۱۹۲

2 اخون درويزه، مخزن الاسلام، جدون پريش پېښور، ۱۹۸۷ء، مخ ۱۳۸

3 رفيع، حبيب الله، زنځيرى يا خط نامه، د خوشحال خان ختک ايجاد، خوشحال ريسرچ سيل، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۵ء، مخ ۲۳

4 مغموم، يار محمد، پروفېسر، د پښتو ليک دود/املا ارتقاء، مشموله، پښتو او پښتانۀ، نن سباء، ترتيب: اسير منګل، سليم بنګش، پښتو ادبي چمن ټل، ۲۰۱۲ء، مخ۱۸۶

5 پښتو ليک لار، د محمد جاوېد خليل په اهتمام، حميديه پريس پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور، ۱۹۹۱ء، مخ ۲۰

6 خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، مخصوص توري (مضمون)، مشموله مياشتنى مجله، پښتو، د پښتو ليکلار ورکشاپ نمبر، اکتوبر ۱۹۹۱ء نه جون ۱۹۹۲ء پورې،، مخونه: ۷۵، ۷۶

7 سيد خيال بخاري، د پښتو صرف و نحو، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۸۳ء، مخ ۴۵

8 خټک، خالد خان، ډاکټر، په پښتو رسم الخط کښې د لسانياتو د تقاضو له مخې راولاړې شوې کشالې او د هغوي حل، مشموله: مياشتنى مجله، پښتو، د پښتو ليکلار ورکشاپ نمبر، اکتوبر ۱۹۹۱ء نه جون ۱۹۹۲ء پورې،، مخونه: ۹۲، ۹۳

9 اسماعيل ګوهر، پښتو لسانيات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جولائي ۲۰۲۱ء، مخونه: ۹۳ او ۹۴، ۹۵

10 برق، سعدالله جان، د پښتو ليک دود او املا، اعراف پرنټرز اردو بازار محله جنګي پېښور، جنوري ۲۰۱۹ء، مخ۶۸

11 خليق، عبدالخالق، (اداره) د پښتو يو نوے حرف ، مشموله، پښتون مجله، اتمانزو، چلونکے مخرِ افغان خان عبدالغفار خان، مئ ۱۹۴۰ء، مخ۱۴

12 عبدالصمد،خط ، مشموله، پښتون مجله، اتمانزو، چلونکے مخرِ افغان خان عبدالغفار خان، جون ۱۹۴۰ء، مخونه ۲۳، ۲۴

13 اسماعيل ګوهر، پښتو لسانيات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جولائي ۲۰۲۱ء، مخ ۹۵

14 پښتو ليک لار، د محمد جاوېد خليل په اهتمام، حميديه پريس پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور، ۱۹۹۱ء، مخ۳۰

15 خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو نوي املا، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۱ء، مخ۳۳

16 خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو نوي املا، مخونه ۳۳، ۳۴

17 اسماعيل ګوهر، پښتو لسانيات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جولائي ۲۰۲۱ء، مخونه: ۹۵، ۹۶، ۹۷

18 خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو نوي املا، مخونه، ۳۵، ۳۶

19 اسماعيل ګوهر، پښتو لسانيات، مخونه: ۹۷، ۹۸

20 خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو نوي املا، مخونه: ۳۷، ۳۸، ۳۹

21 اسماعيل ګوهر، پښتو لسانيات، مخونه: ۹۸

22 خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو نوي املا، مخونه: ۳۶ او ۳۷

23 اسماعيل ګوهر، پښتو لسانيات، مخونه: ۹۹